# دتقوا ژوند

Download from:aghalibrary.com

شیخ العرب والعجم عارف باللہ
حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

خانقاہ اِمدادیہ اَشرفیہ
گلشنِ اقبال بلاک نمبر ۲ کراچی

# فهرست

| عنوان | صفحه نمبر |
| --- | --- |

حرام خواهشات قربانول دخدای ددوستی علامه ده ........................ ۷
پر ګناه باندی تقوا دترمخه بیانولو راز........................................ ۸
د تقوا ماده پر ګناه ولاړه ده............................................ ۸
دتقوا دپاره د ګناه دخواهش وجود ضروری دی ........................ ۹
دخدای دلاری دغم عظمت ............................................. ۹
دبریتو شرعی حکم ...................................................... ۱۱
ګناهګاره ژوند دپریښولو یوه قصه ........................................ ۱۲
د نافرمانه اعضاوو بی قدری ............................................ ۱۲
تقوا څه شی ده؟ ........................................................ ۱۳
کار مه کوی او انعام واخلی ............................................ ۱۳
تقواداره چاته ویل کیږی ................................................ ۱۴
دمرید کیدو حقیقت ...................................................... ۱۵
دبیعت یو مثال ........................................................ ۱۵
پر ملایکو باندی د اولیاوو د افضلیت سبب ................................ ۱۶
د ګناه او تقوا یو عجب مثال............................................ ۱۷
دشیطان استزلال (خطا ایستل) د ګناه سبب دی ............................ ۱۸
ژر دتوبه کښلو یو عجب فایده ............................................ ۱۹
پر ګناهګارو باندی دحق تعالی دکرم او فضل ظهور ........................ ۲۰

حق تعالی ته دنژدې کیدو دوې لارې ........................ ۲۱
یوه لار دتقوا ده او بله دتوبې ده ........................ ۲۲
جاه او باه دوې خطرناکه ناجورې ........................ ۲۲
د آه او الله نژدیوالی ........................ ۲۳
دکبر اتم بم او دهغه اجزاوې ........................ ۲٤
بطرالحق او غمط الناس دکبر دوې برخې ........................ ۲٤
دکفر څخه نفرت واجب او کافر کمتره بلل حرام ........................ ۲۵
دمولانا اشرف علی تهانوی صاحب دبندګۍ او فناوالی مقام ........ ۲٦
دکبر بم دخنثی کولو ډله ........................ ۲۷
دکبر څخه د نجات طریقه ........................ ۲۷
ګناهګاره کمتر دنه بللو طریقه ........................ ۲۸
تقوا د حاصلولو آسانه لار ........................ ۲۹
دمجازي عاشقانو د اصلاح دپاره نسخه ........................ ۳۰
دعلامه خالد کردی رحمة الله علیه قصه ........................ ۳۰
دصمدیت صفت دحق تعالی د احدیت دلیل دی ........................ ۳۲
ګناوې په نیکیو سره پر بدلیدلو باندې دمولانا رومی مثال ........ ۳۳
دظاهري لمر تاثیر پر نجاست باندې ........................ ۳٤
د رحمت دلمر تاثیر پر باطني نجاست باندې ........................ ۳۵
دخدای ددوستۍ علامې ........................ ۳٦
دتقوا نور څنګه پیدا کیږي ........................ ۳٦
دفلاح معنی ........................ ۳۷

# مقدمه

بعضی خلک د بې علمی په خاطر دګناوو خواهشات د تقوا خلاف کار بولی په دې خاطر دګناوو دخواهشاتو څخه سخت په تکلیف دی حتٰی چی شیطان هغه خطاباسی چی دګناوو دخواهشاتو سره ته دخدای دوست نه سې کیدای، لهٰذا د اولیاوو د صحبتو څخه لیری شخص او د دین او تصوف د حقیقت څخه بې خبره څه معلوم ځونه خلک دی چا چی دګناوو او دګناوو د خواهشاتو تر مینځ فرق ونه کړی او په ناامیده کیدو سره یې پر دغه خواهشاتو باندی عمل شروع کړی او دحق تعالیٰ د محبت څخه بې برخی پاته سول.

حق تعالیٰ دی عارف بِاللّٰہ حضرتِ اقدس مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه ته اجرِ عظیم ورکړی چی په دغه بیان کی یې دقرآن شریف ددې آیت **فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَاهَا** څخه ثابته کړل چی دګناوو خواهشات دخدای په لار کی هیڅ تاوانی نه دی بلکې پر دغه خواهشاتو باندی عمل کول تاوانی دی او دګناوو دغه خواهشات که نه وی نو سړی د تقوا خاوند کیدای هم نه سی ځکه چی د تقوا معنٰی همدا ده چی دګناه خواهش وی خو پر خپل نفس باندی سړی زور را ولی او دنفس دخواهش څخه ځان را وګرځوی او د ځان په را ګرځولو کی چی کوم تکلیف وی هغه برداشت کړی، لهٰذا دګناوو خواهش د تقوا موقوف علیه دی یعنی دتقوا دپاره ددغه خواهشاتو وجود ضروری دی.

لهٰذا دګناوو دخواهشاتو څخه سړی باید په تکلیف نه سی بس پر دغه خواهشاتو باندی دی عمل نه کوی او دګناوو خواهشات دوه قسمه دی یو جاه (یعنی د لویې خواهشات) او بل باه (یعنی د شهوت خواهشات) لهٰذا

که موږ د جاه څخه جیم او د باه څخه بې ایسته کړو یعنی پر غیر شرعی خواهشاتو باندی عمل ونه کړو نو به آه پاته سی او زموږ د آه او الله تر مینځ دونه نژدیوالی سته چی حق تعالیٰ په خپل نوم مبارک کی زموږ آه شامله کړې ده. خلاصه یې دا ده چی سړی دی دګناوو پر خواهشاتو باندی عمل نه کوی نو به دخدای دوست سی او تقوا د حاصولو طریقه **كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ** یعنی د اولیاوو صحبت دی.

دحضرت صاحب دغه بیان د مایوسه او ناامیده خلکو دپاره دکیمیا نسخه او د امید لمر دی کوم چی حضرت صاحب په قرآنی آیتو او احادیثو مبارکو سره مدلل کړی او دمولانا رومی صاحب د مثنوی شریف په مثالو سره او په خاصه د زړه په هغه درد او د محبت په هغه سوز سره بیان کړی چی دهغه دپاره حق تعالیٰ حضرت صاحب خاص کړی دی او دا دهغی کمیابی ورثې حصه ده کوم چی په اُمَّت کی خاص خاص اولیاوو ته عطا سوی دی، حق تعالیٰ دی ماته او موږ ټولو ته دحضرت صاحب صحیح پیژندنه راپه نصیب کړی او دقدر توفیق دی راکړی او دحضرت صاحب سایه دی په روغ صحت او عافیت او د دین په عظیم الشانه خدمت او دقبولیت د شرف سره تر ډیره وخته قایم وساتی، ماته او موږ ټولو ته دی دحضرت صاحب د زړه درد، د محبت سوز او دخدای دمحبت ناقراری او دحضرت صاحب نسبت دجذب کولو صلاحیت او توفیق راپه نصیب کړی، آمین.

حضرت صاحب دغه بیان پر۵ دشوال المکرم ۱٤۱٤ هجری په مطابق ۱۸ دمارچ۱۹۹۴دجمعې په ورځ پر۱۱:۳۰ بجې پر خپل عادت باندی دخپلی خانقاه په مسجدِ اشرف کی وکړی. بیان دټیپ څخه نقل سو او ددې نوم دتقوا ژوند وټاکل سو. **جامع او مرتب کونکی**

**یو خادم د حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ**

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ سَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى اَمَّا بَعْدُ**

**فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ○ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**

**وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰاهَا ○ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰاهَا ○ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ○**

**وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ○**

حق تعالیٰ په قرآن شریف کی ددې آیتو تر مخه د آسمان او مځکی او د لوی لوی نښانیو د قسم اخیستلو وروسته بیا د نفس قسم واخیستی **وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰاهَا** او قسم دی د نفس او دهغه ذات چا چی دغه صحیح پیدا کړی دی، چا چی په نفس کی دواړی مادې کښیښولې **فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰاهَا** یعنی حق تعالیٰ په نفس کی دګناه کولو خواهش او طاقت هم پیدا کړی دی او دتقواداری صلاحیت یې هم پکښی ایښی دی.

اوس نو د انسان په اختیار کی ده که غواړی د نفس په غلامی کولو سره دی د دوږخ لاره اختیار کړی او که غواړی په کوښښ کولو سره دی ځان تقواداره او دخدای دوست جوړ کړی، خوښه یې خپله ده چی عبدُالرحمن (یعنی دخدای صحیح بنده) جوړیږی او که عبدُالشیطان جوړیږی (یعنی دشیطان پر لاره ځی) حق تعالیٰ انسان ته اختیار ورکړی دی که غواړی نو دتقوا لار دی اختیار کړی او که غواړی نو دګناه لار دی اختیار کړی، پر داغه اختیار باندی جزا او سزا ده.

اوس سوال دا پیدا کیږی چی حق تعالیٰ په دې آیت کی تقوا ولی وروسته بیان کړې ده **فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰاهَا** او د فجور یعنی ګناه ماده یې اول بیان کړې ده، که څه هم دقاعدې په حساب ښه شی باید اول بیان سی، په مسجد کی ته ښه قدم یعنی راسته قدم اول ایږدې، دوړی په راسته

لاس خوري، هر ښه شی ترمخه یې لاکن حق تعالیٰ په دې آیت کې ګناه دتقوا ترمخه بیان کړله، په دې کې یو ډیر لوی راز دی که دغه راز معلوم سی نو هیڅوک به دخپلو ګناوو پر خواهشاتو باندی غمجن نه سی، دګناه خواهش ستاسی دپاره تاوانی نه دی بلکې پر هغه خواهش باندی عمل کول تاوانی دی، که دګناه خواهش نه وی نو تاسی تقواداره کیدای هم نه سی.

## حرام خواهشات قربانول دخدای ددوستی علامه ده

تقوا ددې نوم دی چی دګناه خواهش وی، زړه دی غواړی چی ګناه وکړ، لاکن خپل زړه مات که د نفس خواهش مه پوره کوه، دخپل ناروا خواهشاتو وینه وکه نو د زړه ټوله اړخونه یعنی شرق، غرب، شمال او جنوب څلور سره اړخونه به سره سی، د دنیا لمر خو د یوه طرف څخه راپورته کیږی یعنی دشرق دطرف څخه.

لاکن کله چی دخدای دوستان تقوا اختیار کړی او دخپل ناروا خواهشاتو وینه وکړی او دخدای په لاره کی غم یوسی نو د زړه څلور سره اړخه شرق، غرب، شمال او جنوب دخواهشاتو په وینو سره سی او د څلورو اړخو څخه په زړه کی دخدای د نسبت، دخدای سره د تعلق، دخدای سره د دوستی لمر راپورته سی او که د ناروا خواهشاتو وینه ونه سی نو بیا به څه حاصل سی (په زړه کی به) پر تیاره باندی تیاره زیاتیږی، پر مرداری باندی به مرداری، پر بدبویی باندی به بدبویی او پر بدنامی باندی به بدنامی زیاتیږی، ښه نوم نه سی حاصلیدای.

بیا به تاته شیخ صاحب ویونکی پر ټوله مځکه باندی نه وی کله چی خلکو ته دا معلوم سی چی دغه شیخ صاحب د اولیاوو په شکل کی ګناوی کوی نو به وایی چی دغه سړی دوکه بازه او ډیر چالاکه دی دده څخه لږ هوښیار اوسی، دګناهګاره سړی څخه د عزت لقبونه واخیستل

سی، دګناه یوه سزا په دنیا کی دا هم ده چی د سړی څخه د اکرام او عزت لقب واخیستل سی او  د ذلت لقب ورکول کیږی.

تاسی راته ووایاست چی دهغه زړه به څه حال وی چی دهغه د هر اړخ څخه دخدای د قُرب لمر راپورته کیږی. یو سړی چی خورشید نومیږی یوه ورځ ماته راغلی نو ما دغه شعر ورته ووایه ؎

**خورشید کے دل کو جو ملا خالق خورشید**

**خورشید سے پوچھے کوئی خورشید کا عالم**

**ترجمه**: د خورشید وزړه ته چی حق تعالیٰ راغلی نو د خورشید څخه دی څوک دخوشحالی حال وپوښتی

## پر ګناه باندی تقوا دترمخه بیانولو راز

دحق تعالیٰ په نفس سره قسم اخیستل ددې خبری دلیل دی چی الله پاک ډیر لوی مضمون بیانول غواړی. زه د یو لوی عالم او محدِث سره په یو سفر کی ملګری سوم، پر لاری هغه دسهار جماعت راکړی او داغه سورت یې وویلی، په لمانځه کی دا فکر راپیدا سو چی (په دې آیت کی) حق تعالیٰ تقوا ولی وروسته بیان کړله او دنافرمانی او ګناه ماده یې ترمخه بیان کړله نو ما دهغه عالم څخه دا پوښتنه وکړه، نو هغه وخندل او راته وې ویل چی ته یې را وښوه.

## د تقوا ماده پر ګناه ولاړه ده

ما ورته وویل زما په زړه کی حق تعالیٰ دغه خبره را واچوله چی څنګه بې له اوداسه لمونځ نه سی صحیح کیدای او بې له موقوف علیه ویلو بخاری شریف نه سی ویل کیدای همدغه رنګه د تقوا ماده پر نافرمانی باندی

ولاړه ده، که دغه د نافرمانۍ ماده نه وای نو (دګناوو څخه ځان) راګرځول به څنګه ثابتیدای، هر نهی د خپل منهی عنه د وجود او ثبوت دپاره ضروری دی مثلاً زما په لاس کی تسپې دی او زه دا وایم زما په لاس کی چی کومی تسپې دی هغه ته مه ګوری، نو د تسپو وجود ضروری سو که یا ؟ که زما په لاس کی تسپې نه یی او بیا زه دغه ووایم چی زما په لاس کی کومی تسپې دی هغه ته مه ګوری نو ټوله خلګ به وایې چی دا غلطه خبره ده په لاس کی خو دی تسپې بیخی سته نه.

## د تقوا دپاره د ګناه دخواهش وجود ضروری دی

نو دحق تعالیٰ دغه فرمان چی دګناه دخواهش څخه ځان را وګرځوه او زما خبره ومنه او زما غلام اوسه، نفس نه یې پیدا کړی ما پیدا کړی یې، نو ددې څخه معلوم سول چی دګناوو دخواهشاتو وجود ضروری دی په داغه خاطر خو یې دځان د راګرځولو حکم راکړی، که دګناوو خواهشات نه وای نو د تقوا وجود هم نه سوای کیدلای ځکه چی دتقوا معنیٰ دغه ده چی دګناه خواهش (په سړی کی) وی خو عمل پر ونه کړی او ګناه د نه کولو غم (پر زړه) یوسی.

## دخدای د لاری د غم عظمت

په داغه غم سره حق تعالیٰ حاصلیږی لاکن افسوس او دغه خبره د زړه په درد سره درته کوم چی د ټولی دنیا غمونه وړلو ته انسان تیار دی لاکن دخدای دلاری دغم څخه بیریږی، که څه هم ګناه د نه کولو غم دونه دعزت وړ غم دی که د ټولی دنیا د پاچاهانو تخت او تاج او د ټولی دنیا د لیلاوو او مجنونانو حُسن او عشق او د ټولی دنیا دولت او د دنیا ټوله کبابونه او خوندونه په یوه پله کی کښیږدې او په بله پله کی دخدای دلاری

د غم یوه ذره کښیښودي نو د ټولي دنیا خوشالی، خوندونه، د پاچاهانو د تخت او تاج نشي ددې یوې ذرې غم سره نه سی برابر کیدای. آه علامه سید سلیمان ندوی رحمة الله علیه څونه ښنه شعر فرمایي ؎

**تیرے غم کی جو مجھ کو دولت ملے**

**غم دو جہاں سے فراغت ملے**

**ترجمه**: (یاالله) ستا د غم دولت چي ماته حاصل سی نو د دواړو جهانو د غم څخه به نجات را ته حاصل سی

دخدای دمحبت او دخدای دلاری دغم یوه ذره او دګناوو څخه ځان دساتلو غم تر ټوله کاینات او تر دواړو جهانو افضل دی، په داغه غم سره جنت حاصلیږی، دا هغه غم دی کوم چي بنده وخدای ته نژدې کوی، دا هغه غم دی چي د سړی څخه دخدای دوست جوړوی، دا هغه غم دی چي په دنیا کی هم سړی پر آرامه ساتی، دا هغه غم دی چي تر جنته سړی رسوی، اوس نو ددې غم قیمت څوک ادا کولای سی؟ که د ټولی دنیا خوشالی دخدای دلاری غم ته په احترام سلامی وکړی نو بیا هم دخدای دلاری دغم حق نه سی ادا کیدای، د زړه په درد سره دغه درته وایم چي دخدای د لاری غم داسی قیمتی دی چي په داغه غم سره خدای حاصلیږی،

زما یو شعر دی ؎

**دامن فقر میں میرے پنہاں ہے تاج قیصری**

**ذرّۂ درد و غم ترا دونوں جہاں سے کم نہیں**

**ترجمه**: زما د فقری په لمن کی د قیصر تاج(دحق تعالیٰ محبت) پټ دی، ستا دغم یوه ذره تر دواړو جهانو په کم نه ده

که ګناه د نه کولو غم سرې پر ځان يوسی نو حق تعالیٰ ظالم نه دی چې يو بنده خو هر وخت دګناوو دخواهشاتو څخه په عذاب وی لاکن بيا هم هغه ګناه نه کوی او غم پر ځان وړی نو حق تعالیٰ ارحمُ الرَّاحمين دی، دهغه د رحمت په درياب کی جوش پيدا سی چې زما بنده زما د لاری ثونه غمونه پر ځان وړی اول يې ږيره نه درلوده اوس يې ږيره پريښول نو ټوله پسخند په وهی لاکن هغوته وايې چې هيڅ پروا نه لری زما خدای خو را څخه خوشاله دی او نن تاسی په ما پسخند ووهی خو د قيامت په ورځ به انشاءالله په ما پسخند نه سی وهل کيدای.

# د بريتو شرعی حکم

او ترمخه يې لوی لوی بريتونه وه دهغه حکم په اوريدلو سره يې بريتونه کوچنی کړه، ځکه چې په حديث شريف کی دی چې ثوک غټ غټ بريتونه پريږدی هغه ته دنبی عليه السلام شفاعت نه سی حاصليدای لاکن دغټو بريتو معنیٰ دا ده چې دلوړی شونډی د آخری ثوکی څخه وريښته تجاوز وکړی يعنی که د لوړی شونډی د آخری ثوکی څخه دبريتو وريښته ومښلی نو اوس دا غټ بريتونه دی، داسی بريتونه پريښول روا نه دی لاکن که تر دې کم وی يعنی که د لوړی شونډی آخری ثوکه ښکاره ده نو داسی بريتونه پريښول روا خو دی لاکن افضله درجه شيخُ الحديث مولانا زکريا صاحب رحمة الله عليه هم داغه ليکلې ده چې دبريتو وريښتان په غيچی سره برابر کړی او دونه يې برابر کړی چې د وريښتانو وجود نه سی پاته.

لاکن په چاړه بريتونه خريل دبعضو علماوو په نيز بدعت دی. په دغه خاطر غيچی يا برقی ماشين استعمال کړی، همدغه رنګه اول يې غزلی د اوريدلو عادت وو اوس يې غزلی پريښولې او غم يې پر ځان يوړی لاکن ددې غم د عظمت حق ثوک ادا کولی سی.

## ګناهګاره ژوند دپرېښولو یوه قصه

د فرانس په جزیره ری یونین کی زما یو دوست دی چی زما خلیفه هم دی، اول سر یې د غزلو او سازو عادت درلودی او دونه مهارت یې پکښی کی درلودی چی د غرو په لمن کی به یې چیری تولکه ووهله نو ټوله انګریزان به ورته بیده سول داسی تاثیر به یې وو لاکن کله چی حق تعالیٰ دخپل ځان کړی او د هدایت توفیق یې ورکړی نو ټول سازونه یې مات کړل او په مځکه کی یې ښخ کړل، اوس زه دهغه حال څه درته ووایم، سر تر نوکه صالح سړی دی، خولۍ پر سر، اوږد قمیص، د اولیاوو وضع او الحمدُلله زړه یې هم د اولیاوو زړه سو، تاسی دهغه خبری واوری نو حیران به پاته سی لکه یو لوی دخدای دوست چی ګډ وی لاکن غم یې (پر ځان) یوړی که یا، غم خو تر اوسه پوری ورسره سته وایی چی اوس هم که د یو ځایه څخه د غزلی ږغ راسی نو په زړه کی می غم پیدا سی او زړه می دا غواړی چی غزله واوره لاکن اورم یې نه.

## د نافرمانه اعضاوو بې قدري

څوک چی دغم وړلو عادت نه لری او د غم وړلو اراده یې هم نه وی نو هغه ظالم دخدای په لار کی بې کاره دی، دهغه قدمونه د څه شی وړ دی؟ هغه ددې وړ دی چی پرې کړل سی، مولانا رومی رحمة الله علیه فرمايي چی کومی پښې دخدای په لار کی تګ ونه کړی، دخدای ومسجد ته ولاړی نه سی نو دداسی پښو پرې کیدل ښه دی، کوم لاسونه چی دخدای په عبادت کی کار نه سی، حجرِ اسود ته ور نه وړل سی، د اولیاوو سره روغبړ ونه کړی نو دداسی لاسو پرې کیدل ښه دی، کوم غوږونه چی دخدای فرمان نه اوری نو هغه ددې وړ دی چی د مینځه یووړل سی، کومی

سترګی چی دخدای د دیدار لایقی نه وی، دخدای نافرمانی کوی هغه سترګی دکښلو وړ دی، څوک چی دخدای نافرمان وی هغه د ژوند کولو لیاقت نه لری.

ددې خبرو دا معنٰی نه ده چی تاسی یو څوک مړ کړی یا دهغه سترګی را وکاږی یا یې غوږونه ورپرې کړی نا، بلکې مطلب یې دا دی چی دحق تعالیٰ په نیز دداسی سړی هیڅ قدر نسته. دا خو دحق تعالیٰ حلم او کرم دی چی هغه وخپل بنده ته وخت ورکوی چی شاید اوس توبه وکاږی، شاید اوس توبه وکاږی، شاید اوس توبه وکاږی لاکن زموږ پر ګناوو باندی ټینګار انتها نه لری، که حق تعالیٰ حلیم ذات نه وای نو زموږ وجود به هم نه وای.

## تقوا څه شی ده

زما دوستانو! دغه عرض درته کوم چی حق تعالیٰ (په دې آیت کی) تقوا اول نه ده بیان کړې، اول یې دغه وفرمایل **فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا** یعنی ما په تاسی کی دګناوو خواهشات ایښی دی اوس نو ستاسی کار دی چی پر دغه خواهشاتو باندی عمل ونه کړی نو خپله به ددغه آیت پر راتلونکی جز باندی ستاسی عمل وسی یعنی تقوا به درته حاصله سی، دغه دګناه ماده د تقوا موقوف علیه ده یعنی که تقوا حاصلول غواړې نو فقط ګناه پرېږده او د ګناوو پر خواهشاتو باندی عمل مه کوه.

## کار مه کوی او انعام واخلی

اې دکارخانو خاوندانو! تاسی خو د مزدوری اخیستلو وروسته (خلکو ته) انعام ورکوی لاکن زما (یعنی حق تعالیٰ) څخه تاسی انعام واخلی خو کار مه کوی، غلاوی مه کوی، درواغ مه وایاست، نامحرمه ښځو ته مه

ګوری، لغږزنو هلکوانو ته مه ګوری یعنی دګناوو کارونه مه کوی او د تقوا انعام او زما ددوستی انعام واخلی، ځکه چی تقوا څه شی ته وایې؟ تقوا دې ته وایې چی سړی ته دګناه کولو خواهش ورپیدا سی خو پر هغه خواهش باندی دخدای دبیری په خاطر عمل ونه کړی او پر دې باندی چی کوم غم رسیږی هغه برداشت کړی او پر دې غم باندی به پښیمانه هم نه وی چی آه ما تقوا ولی اختیار کړه کشکی می یو نظر دغه ښځی ته کتلی وای.

داسی پښیمانی او حسرت چی تر څه وخته وی نو پوه سه چی شیطان یې خطاباسی او تر اوسه دده زړه (دخدای په محبت کی) اوم دی، ایمان یې ضعیفه دی، ایمان هغه وخت کامل کیږی چی سړی دګناه څخه ځان د ساتلو وروسته او دغه غم پر ځان د وړلو وروسته دخدای شکر ادا کړی او دخوشالی څخه مست سی.

## تقواداره چاته ویل کیږی؟

تقواداره هغه سړی دی کوم چی دګناه څخه ځان وساتی، خپل نظر دنامحرمه ښځو او لغږزنو هلکوانو څخه وساتی، ځان د درواغو څخه وساتی، د رشوت څخه ځان وساتی، دمور و پلار سره دبداخلاقی څخه ځان وساتی، پر مادینې باندی دظلم څخه ځان وساتی، دهمسایګانو په حق کی دظلم څخه ځان وساتی، هر وخت پر روا کارو باندی عمل وکړی او د ناروا کارو څخه ځان وساتی او پر پښیمانه کیږی به هم نه چی څه درته ووایم اسلام عجبه مذهب دی موږ یې هر وخت د روا او ناروا په تکلیف کی اچولی یو،

اې ظالمه په تکلیف کی یې نه یې اچولی بلکې اسلام دتکلیف څخه وساتلې، که دی د آزاد غوایې په شان وهر کښت ته خوله اچولای (یعنی هری ګناه ته آزاد وای) نو (دخدای دعذاب) دونه لښتی به دی خوړلی وای چی ژوند به در باندی حرام سوی وای، صحرا ته ولاړسه

وې کوره کوم غواړي چې په هر کښت کې خوله اچوی پر هغه باندی دونه لښتی اوری چې پر شا یې یو اینچ ځای هم سم نه يي پاته او کله چې ناجوړه سی نو څوک يې علاج هم نه کوی، کله چې مړ سی نو څوک يې ښخوی هم نه، مرغان يې وخوری.

## د مرید کېدو حقیقت

دا هم ژوند دی چې سړی دحق تعالیٰ دقید او بند څخه آزاد وی نو د داسی سړی ژوند هم د لعنت او بې کسی وی او څوک چې (د خپل اصلاح دپاره) دخدای ودوست ته ځان په لاس ورکړی (یعنی مرید سی) نو په حقیقت کی هغه دخدای ودوست ته ځان په لاس ور نه کړی بلکې دخدای پر لاس یې ځان خرخ کړی، حق تعالیٰ پر مځکه باندی خپل نمایندګان (یعنی اولیاء) پیدا کړی دی کوم چې په خپلو اصلاحی طریقو سره بندګان تر حق تعالیٰ پوری رسوی.

## د بیعت یو مثال

مثلاً کله چې صدرِاعظم وپایه تخت ته غنم استوی نو دغنم رانیولو دپاره خپله وبزګرانو ته نه ورځی بلکې دهر سیمی والی خپل نماینده ټاکی چې دبزګرانو سره حال ونیسی، دحکومت په پیسو ادایګی وکړی او غنم ځنی رانیسی او پایه تخت ته یې واستوی همدغه رنګه دخدای دوستان دحق تعالیٰ نمایندګان دی هغه بندګان رانیسی (یعنی مرید یې کړی) او تر حق تعالیٰ پوری یې ورسوی یعنی ولی الله دجوړیدو لار ورښوی چې پر هغه باندی په تګ سره سړی دخدای دوست سی.

اولیاء څوک دخپل ځان دپاره نه بیعت کوی بلکې دحق تعالیٰ بندګی د ورښولو دپاره یې مرید کوی، د مرید کېدو معنٰی ده ځان خرڅول

يعني په اصل کی مريد دخدای پر لاس ځان خرڅ کړی، د اولياوو لاس خو د نمـاينده په شان وی، لکه څنګه چی حق تعالیٰ فرمايي

کوم خلګ چی زما دنبی عليه السلام پر لاس باندی بيعت کوی نو په اصل کی هغه زما دنبی لاس نه دی، هغه زما لاس دی **يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ** د الله لاس دی، اې اصحابو پوه سی تاسی چی زما دپيغمبر عليه السلام پر لاس باندی کوم بيعت کوی هغه زما د نبی لاس نه دی **يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ** اې اصحابو ستاسی پر لاسو باندی په ښکاره خو د نبی لاس دی لاکن په اصل کی په دغه لاس کی زما لاس دی، د نبی لاس زما خليفه او نمـاينده دی، همدغه رنګه کوم چی د رسول ناييبن دی کله چی هغه سړی بيعت کوی نو دهغو پر لاس باندی دحق تعالیٰ لاس وی، بيعت کونکی دحق تعالیٰ پر لاس ځان خرڅ کړی، په داغه خاطر هغه د اولياوو په ډله کی په شامليدو سره ژر دخدای دوست سی.

نو عرض می کاوه چی دګناوو دخواهشاتو څخه مه په تـکليفيږی، دغه خواهشات دخدای سره د دوستی دپاره زينه ده، څوک چی دګناوو خواهشات ونه لری نو هغه به نـرښځی وی بيا خاص دوستی نه سی ورته حاصليدای، که انسان يو مخ صِفر سی او هيڅ خواهش پکښی پيدا نه سی نو هغه دخدای دوست هم نه سی جوړيدای.

## پر ملايکو باندی د اولياوو د افضليت سبب

اولياوو په داغه خاطر دملايکو څخه بازی وړې ده او په داغه سبب يې تـر ملايکو درجه لوړه ده چی دهغو په زړو کی دګناوو خواهشات پيدا کيږی لاکن پر هغه باندی عمل په نه کولو سره پر زړه باندی غم يوسی، ملايکی دا وينی چی موږ ته خو هيڅ خواهش نه

راپیدا کیږی لاکن دغه بیچارګان هر وخت دخواهشاتو غم زغمی خو بیا هم دخپل نفس پر خبره باندی عمل نه کوی او دخپل رب په عبادت اخته دی، همداغه خو دی **فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا** دګناه پر خواهشاتو باندی عمل په نه کولو سره تقوا حاصلیږی.

## د ګناه او تقوا یو عجب مثال

د خیر او شر، تقوا او ګناه دواړی مادې کومی چی حق تعالیٰ په موږ کی ایښی دی دهغه مثال حق تعالیٰ په زړه کی دا راواچوی چی دغه مادې ګواکې د اورلګیت خاشه ده، د اورلګیت خاشه خپله نه بلیږی، کله چی هغه د اورلګیت سره ومږل سی بیا اور بلیږی، بس دګناه او تقوا دغه خاشه کوم چی حق تعالیٰ په موږ کی ایښې ده په دې کی پر یوه باندی دخیر ماده لګیدلې ده او پر بله باندی د شر ماده لګیدلې ده، دواړه صلاحیتونه حق تعالیٰ په موږ کی ایښی دی، دګناه او نافرمانی ماده یې هم راپکښی ایښې ده او دتقواداری صلاحیت یې هم راپکښی ایښی دی لاکن شر ته چی اور وروانه چول سی د خیر څراغ نه روښانه کیږی یعنی تر څو چی موږ خاشه د اورلګیت سره ونه مږو.

او د مږلو معنیٰ څه شی ده؟ د اولیاوو په صحبت کی اوسیدل شروع که نو ګواکې تا دتقوا خاشه ومږله اوس به دتقوا څراغ روښانه سی، که دګناه خواهش درپیدا سو او تا په کوښښ سره خپل خواهش تر پښو لاندی کړی او پر هغه دی عمل ونه کړی نو تا د خیر خاشه ومږله اوس به دتقوا نور پیدا سی، لاکن که دی بدنظری وکړه، د نامحرمه ښځو سره دی ناسته او ولاړه شروع کړه، دلغړزنو هلکوانو سره دی زړه لګول شروع کړی نو پوه سه چی په موږ کی د شر کومه ماده ده **فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا** دهغه خاشه دی ومږله لهٰذا اوس به د شر اور پیدا کیږی او اوس به دمجازی عشق په

اور کی سوځل کیږي، ناقراره به یږي، بې آرامه به یږي، دا دحق تعالیٰ ظلم نه دی، حق تعالیٰ خو دظلم څخه پاک دی، دا خو موږ پر خپل ځان باندی ظلم وکړی چی (دګناوو) خاشه مو ولی ومړله.

دګناه په خواهشاتو باندی هیڅ نه کیږی لاکن (دخدای دطرفه څخه) چی بنده نیول کیږی هغه پر داغه خبره باندی نیول کیږی چی تا خاشه ولی ومړله یعنی دګناه پر خواهش دی عمل ولی وکړی که څه هم ما د نفس دخواهشاتو څخه ځان د را ګرځولو حکم در کړی وو چی د ګناه ماده خو زه په تا کی ایږدم لاکن خبردار د نافرمانی او ګناه پر خواهشاتو باندی عمل ونه کړې، په اورلګیت سره هیڅ نه کیږی ته پر هغه باندی خاشه مه مږه، دګناوو په خواهشاتو سره هیڅ نه کیږی، دغه خواهشات هیڅ تاوانی نه دی بس ته پر هغه باندی عمل مه کوه او خواهشات د راوستلو اسباب مه اختیاره وه، کنې دګناه په ماده کی به مړل شروع سی بیا به د ډیری او خولی سربیره سړی د حُسن په خاوندانو پسی ځغلی، دا داسی خطرناکه مرض دی ځکه چی دبدنظری په کولو سره یږي دخپل ځانه څخه دحق تعالیٰ د رحمت سایه لیری کړه او دحق تعالیٰ تر لعنت لاندی راغلی.

## دشیطان استزلال(خطاایستل) د ګناه سبب دی

په داغه خاطر حق تعالیٰ فرمایي **إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا** چی شیطان زما هیڅ بنده نه سی ښویولای تر څو چی هغه ګناه ونه کړی او زما د رحمت څخه ځان لیری نه کړی، شیطان هغه سړی ښویوی کوم چی دګناه په کولو سره زما د رحمت د سایې څخه لیری سی کنې زما د رحمت سایه چی پر یو چا وی او بیا هغه خپل نفس او شیطان برباد کړی دا ناممکنه ده، نفس ما پیدا کړی دی، هغه ډیر دګناه امر کونکی دی، دګناه سخت خواهشات سړی ته وراچوی لاکن اې دنیاوالو دغه په یاد

وساتی چی **إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ** که زما د رحمت سایه دربانده وی نو ستاسی نفس تاسی ته هیڅ تاوان نه سی در رسولای لاکن کله چی تاسی ګناه وکړی نو ستاسی د رب سایه ستاسی څخه لیری سی **إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا** په ګناه سره دا خبره پیدا کیږی چی کله دی یوه ګناه وکړه نو بیا دوهمه ګناه کیږی او بیا دریمه او څلورمه ګناه کیږی.

که څوک یوواری دلته د بس پر اډه باندی ښځو ته وګوری نو بیا چی تر هر ځایه ځی بدنظری به کوی او که یې اول نظر وساتی نو انشاءالله ددې په برکت به یې بیا ټول نظرونه محفوظه سی او بعضی خلګ په دې خاطر دګناه څخه په ځنډ توبه کاږی مثلاً دګوره څخه تر بازاره دا فکر کوی که می توبه وکښل نو پر راتلونکې اډه باندی چی (ښځو ته دکتلو) کوم خوندونه دی هغه به څنګه اخلم لهٰذا هغه توبه نه کاږی، دمرداری خوړلو څخه توبه نه کاږی چی پر بله اډه به بیا خوند اخلم.

## ژر دتوبه کښلو یو عجب فایده

لاکن علامه آلوسی رحمة الله علیه په تفسیر روحُ المَعَانی کی فرمایي ګوره کله چی ګناه درڅخه وسی نو ژر توبه وکاږه ځکه چی په ګناه سره په زړه کی تیاره پیدا کیږی او په تیارې سره زړه د ابلیس مرکز جوړ سی لهٰذا که تا ابلیس تر ډیره وخته پر ځان مسلطه کړی نو ډیری ګناوی به درڅخه وسی لهٰذا په ژر توبه کښلو سره او د پښیمانی په اوښکو سره زړه بیرته روښانه که. علامه آلوسی فرمایي

**اِذَا اسْتَنَارَتِ الْقُلُوْبُ بِنُوْرِ النَّدَامَةِ وَالتَّوْبَةِ**

کله چی دپښیمانی او توبه په نور سره زړه روښانه سی نو دګناه په تیاره کی چی شیطان کوم مرکز جوړ کړی وو هغه به پریږدی او وبه ځغلی،

لکه څنګه چې شوپرک په تیاره کی اوسیږی د شیطان طبیعت هم داسی دی چې دګناوو په تیاره کی اوسیږی، که دی په توبه کولو کی ځنډ وکړی نو شیطان به هم تـر ډیره وخته در باندی مسلطه يې، آیا تاسی دښمن په خپل کور کی تـر ډیره وخته ساتل غواړی؟ لهٰذا که خطا درڅخه وسی نو باید ژر توبه وکښل سی چې د پښیمـانی، استغفار او توبې په نور سره زړه بیرته روښانه سی او ابلیس ژر ځنی ولاړسی.

## پر ګناهګارو باندی دحق تعالیٰ دکرم او فضل ظهور

آه، ددغه آیت په تفسیر کی پر دې ځای باندی علامه آلوسی د پاچا سلطان ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه قصه نقل کړې ده، دا هغه پاچا دی چې خپله پاچاهی یې پر خدای باندی قربان کړله او لس کاله یې د نیشاپور په غار کی دحق تعالیٰ عبادت وکړی، دداغه قصې په برکت دحق تعالیٰ د کلام تفسیر بیانیږی.ـــه

### اب میرا نام بھی آئے گا ترے نام کے ساتھ

**ترجمه**: اوس به زما نوم هم یادیږی ستا دنامه سره

په دنیا کی ډیرو پاچاهانو د مرګ وروسته پاچاهی پریښوله لاکن هغو ته هیڅوک رحمة الله علیه نه وایي لاکن دغه پاچا په خپل ژوند کی دخدای پر نامه پاچاهی پریښوله او فقیری یې اختیار کړله نو حق تعالیٰ دته دغه عزت ورکړی چې نـن د اولیاوو پر ژبه دده نوم یادیږی او د تفسیر روحُ المَعَانی په څلورمه سیپاره کی علامه آلوسی رحمة الله علیه ددغه خوشبخته او تخت پریښوونکی پاچا ذکر کړی دی، فرمایي چې د نیشاپور

په غار کې لس کاله د عبادت کولو وروسته سلطان ابراهيم بن ادهم د حج دپاره ولاړی نو په طواف کی يې يو خواست وکړی **اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ الۡعِصۡمَةَ** ياالله زه ستا څخه معصوميت غواړم يعنی زه (دملايکو په شان) معصومه سم چې زما څخه هيڅکله ګناه ونه سی.

نو په زړه کې (دخدای دطرفه څخه) ږغ پر وسو چې اې ابراهيم ابنِ ادهم زه خبر يم چې تا زما په محبت کې خپله پاچاهی پريښوله او زه ستا دمحبت قدر کوم لاکن کوم سوال چې ته زما څخه کوې دټولی دنيا انسانان زما پر دروازه باندی داغه سوال کوی **كُلُّ عِبَادِهٖ يَسۡئَلُوۡنَهُ الۡعِصۡمَةَ** هر انسان کوم چې حج ته راځی ماته داغه خواست کوی چې ياالله ما معصوم کړې چې بيا هيڅکله ګناه راڅخه ونه سی، لاکن اې ابراهيم بنِ ادهم که زه د ټولو انسانانو دعا قبوله کم او ټوله معصوم کړم نو بيا ټوله دنيا خو معصومه سول **فَعَلٰی مَنۡ يَّتَكَرَّمُ وَعَلٰی مَنۡ يَّتَفَضَّلُ** نو بيا به زه خپله مهربانی او فضل پر چا کوم او زما د کرم او فضل صفت او د مغفرت صفت به پر چا ښکاره کيږی، داسی خواست وکه چې ياالله ما دګناوو څخه محفوظه کړې او د توبه کولو او د استقامت توفيق راکړې او که بيا هم ګناه راڅخه وسی نو بيا ژر توبه وکاږم.

## حق تعالی ته دنږدې کيدو دوې لاری

د امام غزالی صاحب استاد علامه اسفرائينی رحمة الله عليه ديرش کاله دا دعا وکړه چې ياالله ما معصوم کړې، عصمت راکړې چې هيڅکله خطا راڅخه ونه سی، دا هم دده يو مقام وو، داسی خواست هغه څوک کوی کوم چې دخدای نافرمانی نه خوښوی، يوه ورځ دته په زړه کې خيال ورپيدا سو چې سربيره پردې چې حق تعالیٰ کريم ذات دی لاکن زما د ديرشو کالو دعا يې تر اوسه نه ده قبوله کړې.

## يوه لار دتقوا ده او بله لار دتوبې ده

نو د آسمانه څخه بږغ پر وسو چې اې اسفرائینی ته زما څخه عصمت غواړې، که څه هم ما دخپلی دوستی او محبوب جوړیدو دوې لاری ایښی دی، یوه د تقوا لار ده او بله د توبې لار ده، آیا تا په قرآن پاک کی دغه نه دی ویلی چې **اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ** یعنی الله تعالیٰ توبه کونکی خپل محبوب وګرځوی، چې دوې دروازې دی نو ته ولی یوه دروازه ځان ته ټاکې، که د بشری کمزوری په خاطر ګناه درڅخه وسی نو د توبې د لاری ماته را نژدې سه، قصداً ګناه مه کوه لاکن چې ختمی ډیری سی نو کله فیل هم وښوییږی لهٰذا که ګناه درڅخه وسی نو په توبه کولو سره زما محبوب جوړ سه، ته د تقوا پر دروازې باندی ولی راتلل غواړې که څه هم ما دوهمه دروازه د توبې هم خلاصه کړې ده، چې ما دوې دروازې خلاصی کړی دی نو ته ولی یوه دروازه ځان ته ټاکې، دتوبې دلاری څخه زما محبوب جوړ سه، دګناه څخه دمحفوظه کیدو دعا خو وکه لاکن دمعصوم کیدو دعا مه کوه.

## جاه او باه دوې خطرناکه ناجوړی

لهٰذا که ګناه درڅخه وسی نو په توبه کولو کی ځنډ مه کوه او دګناوو څخه ځان د ساتلو دپاره قربانی ته تیار سه. په دوو جملو کی ټوله دین درته بیانوم، هم دوې ناجوړی دی چې سړی دخدای څخه لیری ساتی، یوه جاه (یعنی لویی) او بله باه، باه معنیٰ شهوت او خواهش کوم چې پر انسان باندی غالبه سی او سړی په بدنظری، زنا، او د شهوت په ګناوو اخته کړی او دخدای څخه لیری سی او جاه معنیٰ کبر، عُجب، لویی، په مخلوق کی دنوم او عزت طلب کول، که نن دغه دوې ناجوړی انسان (د زړه) څخه وباسی نو دخدای دوست به سی.

# د آه او الله نژدیوالی

بس د جاه څخه جیم ایسته که او د باه څخه بې ایسته که نو به څه شی پاته سی؟ آه، او د الله سره آه دونه نژدیوالی لری چې هر کله الله ووایې نو خپل آه به د الله په نامه کی ووینې، زموږ آه حق تعالیٰ په خپل نوم مبارک کی شامله کړې ده (په دې خاطر) چې کله سړی جاه او باه (د زړه څخه) د ایستلو په مجاهده کی غمګین سی نو خپل آه به زما په نامه کی ووینی.

وواياست په دوو جملو کی ټوله طریقت راغلی که یا چې د جاه جیم او د باه بې ایسته کړی نو د جاه او باه دواړو اصلاح وسول، د زړه څخه که دی لویې وایستله او د شهوت پر خواهشاتو باندی غالبه سوې نو پوه سه چې د جاه څخه دی جیم او د باه څخه دی بې ایسته کړل. همداغه دوې ګناوی دی چې انسان مردوده وی او د شیطان پر لاره په تګ سره یې دحق تعالیٰ څخه لیری کوی، څوک د کبر په خاطر هر وخت ځان لوی بولی او څوک د نامحرمه ښځو په قصه اخته دی هغه بیا شهوت او باه مغلوبه کړی دی.

حاجی امدادُالله صاحب رحمة الله علیه فرمایي چې د نفس په ټولو ګناوو کی اصلی دوې ګناوی دی نوری ټولی ګناوی یې ښاخونه دی، یوه ګناه جاه ده او بله باه ده، د جاه معنیٰ ده ځان لوی بلل، بس دغه ګناه دمینځه یوسه. په دنیا کی اوس ته څنګه دا فیصله کوې چې زه لوی یم، دا فیصله خو به دقیامت په ورځ حق تعالیٰ کوی، زموږ ارزښت به حق تعالیٰ لګوی، کوم غلام چې خپل ارزښت خپله لګوی (یعنی ځان یو شی بولی) هغه بې عقل او لیونی دی. د علامه سید سلیمان ندوی رحمة الله علیه څخه یې زده کړی، څه فرمایي ــــ

ہم ایسے رہے یا کہ ویسے رہے

وہاں دیکھنا ہے کہ کیسے رہے

**ترجمه**: موږ (په دنیا کې) داسې واوسیږو که هغسې، هلته (په آخرت کې) به ګورو چې څنګه اوسیږو

کله چې دقیامت په ورځ حق تعالیٰ ستا ارزښت ولګوی نو دخدای د فضل شکر په ادا کولو سره وجنت ته ورداخل سه، لاکن په دنیا کې خپل ارزښت لګونکی سړی چې تر یوه انسان هم ځان ښه بولی نو دا تکبر کونکی دی.

## د کبر اهم بم او د هغه اجزاوي

نبی علیه السلام فرمایي د چا په زړه کې چې د یوې ذرې په اندازه لويي وی نو هغه به جنت ته نه سی داخل، جنت ته تګ خو پریږده هغه ته دجنت خوشبويي هم نه سی حاصلیدای **لَایَجِدُ رِیْحَهَا** یعنی دجنت هوا به هم نه سی ورته حاصله. تاسی ووایاست دغه کبر چې نبی علیه السلام موږ ته را وښوی دا دونه لوی اتم بم دی چې ددغه په سبب به انسان د جنته څخه محرومه سی او دهغه هوا به هم نه کړی حاصله، نو ددې نوم کبر دی لهٰذا ددې فکر باید وسی، داسی نه وی چې دغه د کبر اتم بم زموږ په زړو کی وی او موږ په خبر هم نه یو، لهٰذا دکبر بم د خنثی کونکی ډلی یعنی د اولیاوو سره صلاح وکړی چې د زړه په یوه کونج کی خو د کبر اتم بم نه دی پروت.

## بَطَرُالْحَقّ او غَمْطُ النَّاس دکبر دوې برخې

کبر څه شی دی؟ نبی علیه السلام موږ د کبر په اجزاوو خبر کړی یو، اوله علامه **بَطَرُالْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ** یعنی حق خبره نه منل کبر دی،

لکه څنګه چې بعضی خلک وایي موږ یې نه منو، هر څه چې وایې موږ عمل نه په کوو، موږ د ملایانو خبری نه اورو، حق خبره پیژنی، زړه یې منی چې دغه سړی حق خبره کوی لاکن قبلوی یې نه نو دا تکبر کونکی سړی دی او دوهمه علامه د کبر **غَمْطُ النَّاس** ده یعنی یو انسان کمتره بلل، دلته د **النَّاس** لفظ واوری، مومن یې نه دی فرمایلی بلکې **النَّاس** یعنی انسان یې وفرمایلی لهٰذا که څوک کافر هم کمتره بولی نو کبر ورته راغلی او هغه د سزا مستحق سو، د جنت خوشبویي به هم نه کړی حاصله.

اوس به نو تاسی وایاست چې کافر هم موږ کمتره ونه بولو، نو په دې ښه پوه سی چې د کافر د کفر سره بغض ساتل فرض دی لاکن کافر کمتره بلل حرام دی ځکه چې کیدای سی د مرګ پر وخت هغه ته کلمه ورپه نصیب سی او خاتمه یې پر ایمان باندی وسی.

## د کفر څخه نفرت واجب او کافر کمتره بلل حرام

مولانا قاسم نانوتوی رحمة الله علیه یو هندو په خوب ولیدی چې په جنت کی ګرځی، پوښتنه یې ځنی وکړه چې ته د کومی خوا جنت ته راغلې، هغه ورته وویل ملاصاحب د مرګ پر وخت می ناممکنه کار وکړی یعنی کلمه لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه می وویل، هندو کلمې ته ناممکنه کار یعنی نه ویونکې خبره وایې لاکن دحق تعالیٰ توفیق وسو، ټول عمر یې رام رام وایه لاکن د مرګ پر وخت یې کار سم سو، کافر هم کمتره بلل حرام دی څه معلوم چې خاتمه به یې څنګه لیکل سوې وی، مولانا رومی فرمایي ــــ

هیچ کافر را به خواری منگرید
که مسلماں بودنش باشد امید

یعنی هیڅ کافر هم کمتره مه بوله، په حقارت سره مه ورته ګوره ځکه چې دمرګ ترمخه دهغه دمسلمانیدو امید سته. کیدای سی چې دهغه خاتمه پر ایمان باندی لیکلې وی او دخپل ځان په باره کی دغه فکر وکه چې معلومه نه ده په علمِ الٰهی کی زما خاتمه ښنګه لیکلې ده، دکوم شی ضمانت لرو.

## دمولانااشرف علی تهانوی صاحب دبند ګی او فناوالی مقام

په دې خاطر مولانا اشرف علی تهانوی صاحب فرمايي چې زه اشرف علی ځان د ټولی دنيا تر مسلمانانو فِي الحال بدتره بولم يعنی په موجوده حال کی زه هر مسلمان تر خپل ځان ښه بولم ځکه چې کيدای سی دهغه يو عمل دخدای په دربار کی قبول وی او زما يو عمل هم نه وی قبول او خدای راڅخه خوابدی وی، زه په دې څه خبر يم او فرمايل به يې چې د ټولی دنيا تر کافرانو او د ټولی دنيا تر حيوانانو، تر خنزير او سپی هم زه خپل ځان بدتره او کمتره بولم فِي المَآل يعنی د انجام په لحاظ خپل ځان کم بولم چې معلومه نه ده زما خاتمه به ښنګه ليکلې وی او چې په خاتمې خبر نه يم نو اوس زه ځان ښنګه ښه وبولم.

سُبحانَ الله! دحضرت صاحب ښنګه علوم دی او په الفاظو کی يې څونه نور دی چې تر مسلمانانو زه ځان کم بولم فِي الحال او تر کافرانو او حيوانانو ځان کم بولم فِي المَآل او فرمايل به يې چې کله دغه خيال را وګرځی نو زړه می ولړزيږی چې معلومه نه ده دقيامت په ورځ به د اشرف علی څه حال وی او فرمايل به يې چې کوم ځای جنتيان خپلی چپلکی کاږی که اشرف علی ته دهغو پر چپلکو باندی ځای ورپيدا سی

نو دا به زه غنیمت بولم او زه ددې لایق هم نه یم بلکې دا په دې خاطر چې د دوږخ د اور برداشت نه لرم. او یو موږ یو چې ځانونه مو د جنت ټیکه داران بللی دی، څو رکعته نفل د کولو وروسته دا فکر کوو چې بس د جنت مالکان سولو، دا بې عقلی نه ده نو بل څه شی ده.

## د کبر بم د خنثی کولو ډله

په دې خاطر دوستانو! د کبر مرض دونه خطرناکه دی چې دجنت خوشبويي به هم څوک نه سی حاصلولای، د حج، عمرې، تهجد او اشراق ددې ټولو سربیره به دجنت خوشبويي حاصله نه کړی او دا فرمان دنبی علیه السلام دی. دا چې دونه خطرناکه بم دی چې سړی دجنت څخه محرومه کوی نو بیا تاسی ولی دغه بم د خنثٰی کونکی ډلی سره حال نه نیسی، هغه څوک دی؟ هغه دخدای دوستان او ددین بزرګان دی، دهغو څخه پوښتنه وکړی چې په ما کی خو کبر نسته، دهغو سره واوسیږی نو انشاءالله هغه به یې خپله در وښوی. مولانا اشرف علی صاحب فرمايي چې کله زما په خانقاه کی څوک قدم کښیږدی او یو نظر هغه ته وګورم نو دهغه ټوله ناجوړیانی (یعنی ګناوی) زما پر زړه ښکاره سی لکه (د زړه عکس) ایکسرې چې واخیستل سی چې په ده کی کبر دی، دده په سترګو کی دشهوت اثر دی، نامحرمه ښځو او لغړزنو هلکوانو ته ګوری، هم په اول نظر ټوله رامعلومیږی. د چا څخه چې حق تعالیٰ دخلګو د تربیت او اصلاح کار اخلی نو هغه ته دغه نعمت هم ورکړی.

## دکبر څخه دنجات طریقه

لهٰذا د دوو شیانو څخه ځان وساتی، اول دغه چې خپل ځان لوی مه بولی او د ټولی دنیا تر انسانانو ځان کمتره وبولی نو ګواکې تاسی

د **غَمۡطُ النَّاس** (یعنی یو انسان دکمتره بللو) څخه وساتل سواست او احتیاطاً کله کله سهار او ماښام په ژبه هم دا وایاست چی یاالله زه ستا تر ټولو مسلمانانو بندګانو کمتره یم فِیِ الحال یعنی په موجوده حال کی او تر ټولو کافرانو او حیوانانو بدتره یم فِیِ المَآل یعنی د خاتمې په لحاظ. که په ژبه تاسی دغه وایاست نو انشاءالله د نورو خلګو سپکاوی به مو وزړه ته را نه سی.

او دوهمه خبره دغه ده چی حق خبره قبول کړی، کله چی درمعلومه سی چی دغه خبره حق ده نو هغه دستی قبوله کړی، نو بس دکبر څخه پاک سواست ځکه چی دکبر په اجزاوو کی همدغه دوې خبری وې او د دواړو څخه تاسی ته نجات حاصل سو، څوک چی حق خبره قبول کړی او ځان لوی ونه بولی نو هغه د کبر څخه پاک سو.

## ګناهګاره کمتر د نه بللو طریقه

هیڅ یو انسان که څه هم دهغه حال هر څونه خراب وی، که هغه هر څونه زانی او شرابی وی خو کمتره یې مه بولی، تاسی به وایاست چی دکافرانو او ګناهګاره خلګو څخه خو د چا بد کیږی، بغض او نفرت د کافرانو او دګناهګارانو د عمل څخه وکړی، دکافرانو د کفر څخه، د فاسقانو د فسق څخه نفرت کول واجب دی یعنی دهغه د عمل څخه نفرت وکه خو د عمل کونکی څخه نفرت مه کوه، دهغه د بدکار څخه نفرت خو وکه لاکن د عمل کونکی څخه نفرت مه کوه، اوس به نو تاسی دغه وایاست چی دا خو ډیر مشکل دی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه وفرمایل چی دا ډیر آسانه دی لکه یو شهزاده چی مخ یې د سپوږمۍ په شان ښایسته وی لاکن خپل مخ په رنګ ولړی نو تاسی به شهزاده بد وبولی او که دده په رنګ باندی دمخ

لړلو فعل؟ شهزاده به بد ونه بولی ځکه چې تاسی پوهیږی چې شهزاده دی معلومه نه ده څه وخت مخ پریولی او بیرته دسپوږمی په شان روښانه سی.

بس ددې مثال څخه پوه سی چې د بدکار څخه نفرت وکړی خو کار کونکی سړی بد مه بولی ځکه چې کیدای سی اوس توبه وکاږی، ایمان راوړی او دخدای دوست سی، هو که ځوک په ګناه کی مبتلا ووینی نو دعا وکړی چې یاالله ددغه ګناه څخه موږ وساتې او دا دعا هم ووایاست چې

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیْ عَلٰی کَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلاً**

شکر دی اې خدایه چې تا زه په دغه ګناه کی نه یم مبتلا کړی او که یو وخت ځوک په ګناه کی ووینې، اول خو ورته ګوره هم مه لاکن که دی نظر پر ومښتی چې یو ځوک ونامحرمه ښځی ته ګوری نو دستی خپل نظر کښته که او ووایه چې یاالله ستا احسان دی چې تا زه ددغه ګناه څخه او ددغه روحانی ناجوړی څخه ساتلی یم.

## تقوا دحاصلولو آسانه لار

اوس زه تاسی ته دخپل پیر شاه عبدُالغنی صاحب رحمة الله علیه خبره وړاندی کوم، حضرت وفرمایل چې دا دحق تعالیٰ د رحمت لوی کمال دی چې کله یې تقوا فرض کړل نو تقوا د آسانه کولو نسخه یې هم بیان کړل، هغه څه شی ده، هغه نسخه **کُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِیْنَ** ده یعنی د تقوا دخاوندانو سره واوسیږی.

بیا به وګورم چې ته تر څه وخته ګناه کوې، د اولیاوو سره په اوسیدو کی به یوه ورځ (دګناوو) طبیعت بدل سی اول چې ځوک (دګناوو)

په مرداری اخته وو اوس هغه (دحق تعالیٰ د قرب) په باغ او ګلانو کی اوسیږی، په ګل ګلابو کی اوسیږی، دهغه دمرداری (یعنی ګناه کولو) طبیعت ختم سی بیا به هغه مرداری بویولو (یعنی ګناه کولو) ته آماده نه سی. په کوښښ سره یو څو ورځی دګناه وځایو ته ورتګ پریږده.

## د مجازی عاشقانو د اصلاح دپاره نسخه

ددوستانو د دید دپاره که د پیر دخانقاه څخه په وتلو کی دا خطر وی چی نفس به می بیا وګناه ته ورکش کړی او ګناه به راباندی وکړی نو کال دوه کاله دپیر دخانقاه څخه وتل پریږده، دوست دی وی که هر څوک وی ټوله دخدای دپاره قربان که او هغو ته ووایه چی تاسی دلته زما د دید دپاره راځی، هغه چی هر څنګه ووایي چی دخدای لار ډیره مشکله ده خو ته د هیڅا پروا مه کوه بیا به داغه دوستان ستا پښې درمچوی کله چی دتقوا تاج ستا پر سر وی، ستا د سترګو څه به د تقوا نور ځلیږی، د ژبی څه به دی د تقوا خوشبويي ښکاره سی **سَيَجۡعَلُ لَهُمُ الرَّحۡمٰنُ وُدًّا** حق تعالیٰ دا وعده کوی چی څوک ګناه پریږدی او زما سی نو به هغه زه خپل محبوب وګرځوم او بیا هغه ته دهیڅ تعویذ، دهیڅ جادو کولو ضرورت نسته، هغه چی زما سو نو اوس دا زما کار دی چی هغه زه په مخلوق کی محبوب کړم.

ته ولی دا فکر کوې چی خلک به وایي دخدای لار سخته ده، خلګو ته ووایه چی زه (په ګناوو کی اخته) مریض یم زما پیر زما دعلاج دپاره ویلی دی چی دوه کاله دخانقاه څخه مه وځه.

## د علامه خالد کردی رحمة الله علیه قصه

وګوری علامه خالد کُردی د شام د ملک دونه لوی عالم د شاه غلام علی صاحب په خانقاه کی څلویښت شپې د تیرلو دپاره ډهلی(هندوستان) ته

راغلی، شاه غلام علی صاحب دحضرت مرزا مظهر جان جانان صاحب خلیفه وو. دعلامه خالد کردی دملاقات دپاره شاه عبدُالعزیز محدث دهلوی تشریف راوړی، علامه خالد کردی هغه ته خط ورواستوی چی زه اوس دخپل پیر په خدمت کی ځلویښت شپې تیروم، دغه وخت زه د پیر ماسوا وبل طرف ته توجه نه سم کولای، زه چی خپلی ځلویښت شپې پوره کړم بیا خپله ستا وخدمت ته حاضری درکوم.

دغه د اصلاح طریقه ده چی پیر (دقرآن او حدیث په رڼا کی) څه ووایی پر هغه باندی عمل وکه بیا چی هر څه پیښیږی، تر څه وخته چی ټوله مخلوق، خپل قربیان، خپل تجارت، خپل خواهشات دخدای پر رضا باندی قربان نه کړې خدای نه سی حاصلیدای، خپل ځان دخدای د رضا تابع که بیا وګوره چی څه درته حاصلیږی، کوم خلګ چی دښځو یا لغړزنو هلکوانو دعشق ډیر سخت مریضان دی او د مرض انتها ته رسیدلی دی دهغو دپاره وایم چی دوه کاله دی (دخپل پیر) په خانقاه کی واوسیږی، دباندی دی نه وځی، په یو ضرورت پسی دی هم نه وځی بلکې هغه شی دی خانقاه ته راوغواړی بیا دی وګوری چی دخدای دوستان کیږی که یا.

اوس که څوک (د اولیاوو د صحبتو) په کلانو کی اوسیږی لاکن په مابین کی (دګناوو) د مرداری وځایو ته هم ورځی نو (د اولیاوو دصحبتو) باغ به یې تر څو طبیعت وربدلوی، په میاشت دوې میاشتی یا څلور میاشتی کی په یوه بهانه دپیر دخانقاه څخه را ووتل چی زما فلانی دوست ناجوړه دی، د خارج څخه می ورور راغلی دی او د ګناوو وځایو ته ورسیدل (دګناوو) مرداری یې ولیدله او بوی یې کړله، طبیعت یې بیرته خراب سو او ټول کوښښ یې بې کاره سو. حق تعالیٰ دی زموږ د پیر درجه ورلوړه کړی څه درته ووایم عجب پیر وو فرمایل به یې چی ـــ

# دامن آں نفس کش را سخت گیر

د اولیاوو سره واوسیږی او دهغو لمن ټینګه کړی

او فرمایل به یې په قرآن شریف کی چی کوم ځای په یو آیت کی یو حکم ورکړل سوی دی نو دهغه حکم د آسانی طریقه هم الله پاک ورکړې ده، لکه **يَاۤاَيُّهَاالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡااتَّقُوۡا اللّٰهَ** یعنی تقوا خو هسی ستاسی دپاره مشکله ده لاکن په آسانی سره څنګه حاصلیدای سی؟ **وَكُوۡنُوۡامَعَ الصّٰدِقِيۡنَ** یعنی د اولیاوو سره واوسیږی.

## د صمدیت صفت دحق تعالی د احدیت دلیل دی

زموږ پیر وفرمایل چی کوره په **قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ** کی اَحد نازل سوی دی وَاحد نه دی نازل سوی که څه وَاحد هم دخدای نوم دی او د وَاحد معنٰی هم یو دی، په اَحد او وَاحد کی څه فرق دی؟ اَحد فقط د یوه دپاره استعمالیږی او د وَاحد استعمال د ډیرو دپاره هم کیږی، لکه **وَاحِد مِائَة** یعنی یو سلګون، **وَاحِد اَلْف** یعنی یو زری، وَاحد یو دی لاکن د زری دپاره هم استعمالیږی، عرب چی کله وایي یو زری راکه نو به **وَاحِد اَلْف** وایي، یو سلګون ته به **وَاحِد مِائَة** وایي، لاکن **اَحَد اَلْف**، **اَحَد مِائَة** په عربو کی نه استعمالیږی، د اَحد کلمه صرف د یوه ذات دپاره استعمالیږی.

لهٰذا حق تعالیٰ خاص دغه آیت نازل کړی چی اَحدیت زما دپاره خاص دی، د وَاحد استعمال ته د زرو روپو دپاره هم کولای سې لکه څنګه چی **وَاحِد اَلْف** وایې لاکن د اَحد لفظ بې د الله څخه هیڅ ځای نه سی کاریدای، ددې دلیل څه شی دی، واوری حضرت شاه عبدُالغنی صاحب وفرمایل ددې دلیل **اَللّٰهُ الصَّمَدُ** دی، ځکه چی شراکت د اړتیا دلیل دی،

کړ حکومت جوړول، کړ شراکت جوړول دا د محتاجي دليل وی، کله چې سړی يوازی کار نه سی چلولای نو بيا کړ شراکت جوړ کړی، شراکت عمری پر محتاجي باندی دلالت کوی لاکن حق تعالیٰ فرمايي چې زه په دې خاطر شراکت نه کوم، خپل هيڅ شريک نه لرم ځکه چې زه صمد يم، د صمد څه معنٰی ده؟ حضرت ابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه د صمد تفسير فرمايي **اَلْمُسْتَغْنِيْ عَنْ كُلِّ اَحَدٍ** هغه ذات کوم چې د ټوله کاينات څخه بې نيازه وی **وَالْمُحْتَاجُ اِلَيْهِ كُلُّ اَحَدٍ** او ټوله کاينات دهغه محتاجه وی، ځکه چې زه الله د ټوله کاينات څخه بې نيازه يم او ټوله کاينات زما محتاجه دی بس دغه بې احتياجی زما د اَحديت دليل دی، زما د اَحديت دليل زما صمديت دی، په دې خاطر زما ماسوا بل هيڅوک خدای نه سی کيدای.

څه درته ووايم چې ښکله پير مي وو، داسی اِلهامی علوم به يې وه زموږ دشيخ، دا عجبه علم دی چې د اَحديت دليل داغه صمديت دی، حق تعالیٰ په داغه خاطر واحد دی چې هغه د شراکت محتاجي نه لری، دهغه د صمديت صفت يعنی د بې نيازی صفت د اَحديت دليل دی، دغه دليل يې وړاندی کړی ځکه چې زه د ټوله کاينات څخه بې نيازه يم او ټوله کاينات زما محتاجه دی، زما صمديت زما د اَحديت دليل دی. سُبحانَ الله زموږ دشيخ ښکله علوم او ښکله دلايل وه، خوند به يې وکړی.

## ګناوی په نيکيو سره پر بدليدلو باندی د مولانا رومی صاحب عجب مثال

په آخر کی دمولانا رومی صاحب يوه خبره درته وړاندی کوم وروسته بيان ختموم، مولانا رومی صاحب فرمايي که حق تعالیٰ په موږ کی دګناه ماده ايښې ده نو د تقوا ماده يې هم راپکښی ايښې ده، ددې يو مثال

بیانوی چې په ځنګله کې چې خوشایي پراته يې نو د لمر په شغلو سره هغه وچ سی بیا نانوای هغه په تنور کې واچوی وروسته خوشايي سره سی او ټوله تنور په روښانه سی او په دې د تناره ډوډی پخه سی ځکه چې خوشايي د وچیدو وروسته پاک سول بیا د سوځلو وروسته سره سول او ډوډی يې هم پخه کړله او روښنايي يې هم جوړه کړه نو دا د چا برکت دی؟ دا دحق تعالیٰ د یو کوچنی مخلوق لمر داسی تاثیر دی چې خوشايي او نجاست ته يې دغه مقام ورکړی چې هغه پاک سول.

## د ظاهری لمر تاثیر پر نجاست باندی

دا خو د خوشایو وچه برخه وه لاکن د لمر په شغلو سره چې مځکه توده سوله نو د خوشایو نرم او لوند مواد مځکی جذب کړل کوم چې امبار جوړ سو اوس دداغه امبارو څخه ګل ګلاب او نور خوشبوداره ګلان پیدا کیږی نو مولانا رومی صاحب فرمايي چې اې خدایه ستا د یو مخلوق لمر په شغلو کې داسی تاثیر دی چې د غلیظ نجاست یوه حصه په تنور کې روښانه کړی او بله حصه ګل ګلاب او نور ګلان کړی نو چې ستا د ظاهری لمر په شغلو کې داسی تاثیر دی نو ستا د کرم لمر چې پر چا وځلیږی نو دهغه د بدو اخلاقو به څه حال وی، دهغه دګناه دخواهشاتو به څه حال وی، بیا به دهغه بد اخلاق او دګناوو خواهشات ولی یودم په ښو اخلاقو او دعبادت په شوق باندی بدل نه سی، آه بیا دغه شعر مولانا رومی صاحب وویلی ـــ

***آفتابت بر حدث ها می زند***

اې خدایه! ستا د آسمان لمر پر ظاهری نجاست باندی تاثیر کوی او ـــ

***لطف عام تو نمی جوید سند***

ستا عام لطف او کرم په لیاقت پسی نه کرځی، که په لیاقت پسی کرځیدای نو ستا د آسمان لمر به پر نجاست باندی تاثیر نه کولای او لمر به ویلای چی دا زما د شغلو ناقدری او زما د شغلو د عظمت خلاف ده چی زه پر مرداری باندی اثر واچوم او خپل رفتار به یې بدل کړی وای.

## د رحمت د لمر تاثیر پر باطنی نجاست باندی

لاکن اې خدایه ستا د آسمان لمر چی د نجاست څخه ګل ګلاب او نور ګلان جوړوی او تنور په روښانه کولو سره ډوډی پخوی نو ستا د کرم لمر به څنګه وی، چی ستا د یو مخلوق لمر د شغلو دا حال دی نو ستا د کرم به څه حال وی، د چا د زړه (دګناوو) پر نجاست باندی او د چا د زړه پر غلطو غلطو خواهشاتو باندی چی ستا د رحمت او کرم شعاوی ولویږی نو بیا یې داغه تقاضې او خواهشات د تقوا په نور بدل سی او حق تعالیٰ د خپل کرم دپاره د لیاقت سند نه غواړی، هغه خپله چاته لیاقت ورکوی، مولانا رومی صاحب فرمایي چی حق تعالیٰ دحیوانانو ومرداری او نجاست ته د ګل او روښانه کیدو خاصیت ورکوی ـــ

### چوں خبیثاں راچنیں خلعت دھی

اې خدایه! چی ته خبیث نجاست ته داسی خاصیت، داسی پوښ او لباس ورکوې، د ګلاب لباس، د روښنایي او نور لباس ورکوې نوـــ

### من چہ گویم طیبیں را چہ دھی

اې خدایه! ته به خپل پاک بندګانو ته څنګه نعمتونه ورکوې دغه دبیانولو څخه جلالُ الدین رومی عاجزه دی، زه نه سم ویلای چی ستا د کرم لمر به دخدای ددوستانو، پر دین باندی عمل کونکو او دخدای طلبګارانو پر زړو او دهغو پر فریادو باندی به څنګه څنګه نعمتونه اوروی.

## دخدای د دوستی علامې

اې خدایه! کله چې ستا د کرم لمر پر هغو باندی ولوېږی نو بد اخلاق یې په ښو اخلاقو بدل سی، هغه محبت چې پر فنا کیدونکو ښځو او لغړزنو هلکوانو باندی قربانیدی هم هغه محبت اوس په سجدو کی پر حق تعالیٰ باندی قربانیږی، هم هغه محبت اوس د **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى** په شکل کی دخدای په قدمو کی خپل سر ایښی دی کوم چې تر ټولو لوی ذات دی، کوم چې د سر خالق دی، عزت هم دهغه چا دپاره دی څوک چې د خالق په حضور کی سر کښیږدی، چا چې د خالق په حضور کی سر کښیښوی نو ټول شیان دهغه سول، بیا دهغه هیڅ تکلیف نه سی پاتیدای ځکه چې تر ټولو لوی ذات په حضور کی یې سر کښیښوی نو اوس دهغه ټول مشکلات ختم سول.

## د تقوا نور څنګه پیدا کیږی؟

دوستانو دغه عرض درته کوم چې د یو څو شپو خبره ده لږ کوښښ وکړی او بدپرهیزی مه کوی یعنی دګناوو پر خواهشاتو باندی عمل مه کوی لکه څنګه چې لمر د ځنګله خوشایي په وچولو سره او مځکه په تودولو سره دخوشایو نرم او لوند مواد په امبارو بدل کړی همدغه رنګه دګناوو خواهشات د مجاهدې د لمر په شغلو سره وچیدو ته پریږدی یعنی پر دغه خواهشاتو باندی عمل مه کوی نو یوه ورځ به د تقوا نور درته حاصل سی.

لاکن که څوک خوشایي وچیدو ته پریږدی هم نه او هره ورځ غوا تازه خوشایي پر کوی نو د خوشایو کومه حصه چې لمر وچه کړې وه هغه به بیا پسته سی او وچیدو ته به یې نه پریږدی او مځکه چې دجذبولو دپاره توده سوې وه هغه به بیا یخه سی او د لمر د شغلو ټوله نعمت به ضایع سی

همدارنګه بعضې خلک د بدپرهیزۍ په کولو سره دخپل پیر کوښښونه ضایع کړي، **وَاِلَى اللّٰهِ الْمُشْتَكٰى** هم حق تعالیٰ ته زما فریاد دی.

## د فلاح معنی

**قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا** ددې آیت ترجمه دا ده چا چې خپله تزکیه (یعنی اصلاح) وکړه هغه ته د دواړه جهانو فلاح حاصله سوه یعنی هغه ته دواړه جهان حاصل سول، دنیا یې هم حاصله کړه او آخرت یې هم حاصل کړی، ځکه چې د فلاح مطلب هم دا دی چې **جَمِيْعُ خَيْرِالدِّيْنِ وَالدُّنْيَا** د ټولې دنیا کامیابي او د ټوله آخرت کامیابي.

دواړه جهان هغه حاصل کړه چا چې خپله اصلاح وکړله او د تزکیه کونکی حکم یې ومنی یعنی کوم چې اصلاح کونکی پیر دی دهغه حکم یې ومنی، پیر چې (د قرآن او حدیث په رڼا کې) څنګه درته ووایي هغسې وکه، مه خاندان ته ګوره مه بل چاته، پر (خدای باندی) خپل خواهشات قربان که انشاءالله بیا به داغه خاندان ستا چیلکی پورته کوی.

بس دعا وکړی حق تعالیٰ دی موږ ټولو ته دعمل کولو توفیق راکړی، یاالله دنبی علیه السلام په صدقه زما دغه بیان راځخه قبول کړې او ما هم قبول کړې او څونه اوریدونکی چې دی هغه ټوله هم او زما ژبه او زما ددوستانو غوږونه قبول کړې، موږ ټوله سر تر نوکه قبول کړې او په خپل رحمت سره زموږ د سینو څخه ګناهګاره زړه ایسته کړې، یاالله ددغه ګناهګاره زړه څخه دخدای ددوست زړه جوړ که، د تقوا خاوند زړه یې که، ته خو پر دغه قادر یې چې د اور څخه اوبه جوړې کړې او د اوبو څخه اور جوړ کړې، خوشحالی په غم بدله کړې او غم په خوشحالی بدل کړې، زموږ وسینې ته د درده ډک زړه عطا کړې او دخدای ددوستانو زړه

عطا کړي، دبدن د اندامو په سلامتی او د ایمان په سلامتی سره ژوند راپه نصیب کړي، په سلامتی د اندامو او په سلامتی د ایمان سره مرګ راکړي، دغه دعا زموږ په حق کی، زموږ دکوچنیانو په حق کی، ستاسی دټولو په حق کی، ستاسی د کوچنیانو او دکور دخلکو په حق کی یاالله د ټولی دنیا دمسلمانانو په حق کی یې قبوله کړي، یاربُّ العالمینه! موږ ټولو ته ستا د اولیاوو چی کوم آخری سرحد دی یعنی د اولیاء صدیقین نسبت راته عطا کړي، ماته، زما اولادو ته، دکور خلکو ته، زموږ خپلوانو ته او ټول اوریدونکو ته، دهغو د کور خلکو ته په خپل رحمت سره د اولیاء صدیقین مقام عطا کړي.

یوه دعا نن سبا زه کوم ستاسی څخه د آمین خواست کوم چی یاالله موږ ټولو ته داسی ایمان، داسی یقین راکړي چی زموږ د ژوند هره سا پر تا قربان سی او یوه ساه هم موږ تا خوابدی نه کړو، خپل داسی محبت راکړي، داسی جذبه راکړي، داسی لوړ همت راکړي، اې د ژوند خالقه، اې زموږ د ژوند پیدا کونکي، اې زموږ د ژوند حفاظت کونکي، اې زموږ د ژوند پالونکي په خپل رحمت سره موږ ته په ژوند کی داسی ایمان او یقین راکړي چی زموږ د ژوند هره سا ستا د رضا او خوشحالی پر اعمالو باندی قربان سی او یوه ساه هم موږ تا خوابدی نه کړو یعنی ستا په نافرمانی کی موږ یوه ساه هم مبتلا نه سو، که یو وخت خطا راڅخه وسی نو یاالله د توبې په توفیق سره، د سجدې ځای د اوښکو په لندولو سره، په ډیر شرمندګی سره د توبې توفیق را کړي، زموږ دنیا او آخرت راسم کړي. آمین

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# دربیانِ ترکِ شہوتِ نفسانی

## ماخوزاز مثنوی اختر

**شہوتِ نفسِ تو آرد در بلا — زیں سبب افتی تو در چاہِ خطا**

دا ستا د نفس خواهش دی چی تا په بلا کی اخته کړی او د داغه سبب ځخه ته دګناوو وځاه ته ور ولویږې

**علّتِ ہر جرم ایں شہوت بداں — سرکشی ہر نفس زیں شہوت بداں**

دهری ګناه سبب داغه شهوت دی او د نفس د هر سرکښی سبب داغه شهوت دی

**نارِ شہوت را اگر تو رہ دھی — در رہِ دیں عاقبت باشی تہّی**

د شهوت اور که تا داغسی لګیدلی پریښوی نو آخر به ته د دین ځخه خالی لاس سې

**چیست تقویٰ؟ترکِ شہوت کردن است — پس برائے ترکِ شہوت بودن است**

تقوا څه شی ده؟ شهوت پریښول، بس شهوت په موږ کی د پریښولو دپاره ایښول سوی دی چی موږ په تقواداره سو

**نورِ تقوی ایں بشر کے یافتے — درِ دل خود گر نہ شہوت یافتے**

دغه انسان کله د تقوا نور حاصلولای سوای که یې په خپل زړه کی دشهوت ماده نه وای یعنی چی د ګناه خواهش یې نه وای نو دګناه خواهش به یې څنګه قربانولای او د مجاهدې انعام به یې څنګه حاصلولای

**قدرِ نعمت داں کہ بعد از محنت ست — فرقِ اخلاص و نفاق از محنت ست**

او دحق تعالیٰ د قرب د نعمت قدر دداغه کوښښ او مجاهدې وروسته کیږی او د مخلص او منافق فرق هم دداغه مجاهدې د امتحان وروسته کیږی

**ترکِ ایں شهوت جگر از خوں کند          عشقِ حق در جان ما افزوں کند**

غلط خواهش په پرېښودلو سره ځګر وینې او زړه دغمه خخه ټوټه سی لاکن داغه غم زموږ په وجود کی دخدای عشق تیزه وی

**هرکه او تارک شود زیں شهوتے          می رهاند خویش را از آفتے**

څوک چې شهوت پرېږدی هغه د هر آفت څخه ځان خلاص کړی

**هرکه شد شهوت پرست اندر جهاں          پس حیاتش را تو در دوزخ بداں**

څوک چې په دنیا کی شهوت پرستی کوی بس دهغه ژوند په دنیا کی ددوږخ ژوند سی

**نارِ شهوت نارِ دوزخ متّصل          از تنه چو شاخ باشد متّصل**

د شهوت اور د دوږخ د اور سره تعلق لری لکه څنګه چې تنه د ښاخو سره تعلق لری

**ترکِ شهوت نیست آساں اے فقیر          ورنه هر شهوت پرست گرد دفقیر**

خواهشات قربانول آسانه کار نه دی کنې هر سړی چې شهوت پرست دی خواهشات په پرېښودلو سره به دخدای دوست ګرځیدلی وای

**پس همیں دستور از الله بود          که برد آنجا که اهل الله بود**

بس دخدای عادت داغه دی یعنی دحق تعالیٰ دستور داغه دی چې داولیاوو وصحبت ته د ورتګ وروسته دغه نعمت یعنی د تقوا دولت حاصلیږی

**شیخ کامل را طبیبِ خود بگیر          بهر حق آں را حبیبِ خود بگیر**

بس یو کامل شیخ خپل رهبر او طبیب جوړکه او دخدای دپاره هغه خپل محبوب جوړکه

حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ